AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۰۲/۲۵

# ملي روح

څو تنه قومي سکتریستان وايي:

«ترهغو چې افغانستان د پاکیستان په وړاندې له زمکنۍ دعوې تېر نهشي، د پاکیستان لاسوهنې او دوښمنې پای نهمومي.»

دغه فرضیه پرلاندې منطقي دلایلو او د تاریخي تجربو له مخې ناسمه ده.

تر ډېورند هاغاړه د پرتې افغاني خاورې د بېرته ګټلو داعیه د افغان ملتپالنې بنسټ دی.

په افغانستان ټپل شوې حکومتونه دغه بنسټ نړولی او ملي روح وژلی نهشي. یو مهال پاکیستاني واکمنو د دې لپاره افغان بنسټپال تنظیمونه وپرسول، چې ګواکې د بنيأړخي انترناسیونالیزم تر داعیې لاندې به د افغانانو ملي روح ووژلای شي، دوی «ملي» مفهوم تکفیر کړ، ملتپالنه یې کفر وګڼله، د یوه جهادي تنظیم د حاکمیت پرمهال د پاکیستان د څارګرې اداري رئیس د تنظیمي دولتمشر لوی سلاکار وټاکل شو، واکمنو جهادي تنظیمونو د هر راز ملي ضد پرېکړو ډاډ ورکړ، خو بیا هم په ملت کې د افغان خاورې د بېرته ګټلو داعیه ونهوژل شوه.

پاکیستان ژر په دې پوه شو، چې دوی روزلي واکمن ان په ایډیولوژیکه وسله هم د افغانانو ملي روح وژلای نهشي. بنايي په همدې پار یې ستراتیژي بدله کړه او د افغانانو تر منځ د دوښمنیو په زیاتولو یې د افغانستان کمزورتیا او د ملت ویش ته لاره هواروله، پاکیستان پوهېده، چې یو کمزوری افغانستان به د خپلې خاورې د بېرته ګټلو دعوا ونهکړای شي. په لنډمهال کې پاکیستان موخې ته ورسېد، ملي روح یې زخمي کړ، خو ژوندی پاتې شو.

پاکیستان نه له اټومي هیند څخه وېرېږي، نه له کورنیو شخړو او نه هم د افغانستان له حکومتونو څخه.

د پاکیستان ایکي یوازېنۍ وېره د ځان په وړاندې د ټولو افغانانو جمعي کرکه، ویښتیا او د دوی په ملي روح کې د ډیورند په نوم له تاریخي زخم څخه رازېږېدلې غوسه ده.

پاکیستان ځکه ناهیلی دی، چې دغه غوسه او ملتپال جوهر لکه وینه د هر افغان په وجود کې څرخي، نه یې تنظیمي افراطیت وژلی شي، نه لیبراله پانګواکي او نه هم د دوی د څارګرو په ځالو کې روزل شوي دلې.

هغوی چې لا هم د معقولې و مدني ملتپالنې په ضد دي او غواړي د لوی افغانولس دغه داعیه د بدمرغيو لامل وګڼي، باید وپوهېږي، چې دا داعیه رسمي و دولتي داعیه نه ده، چې په کوم فرمان یا حتی وضع شوي قانون دې له منځه ولاړه شي، دا د لسګونو میلیونو خلکو د ګډ ملي روح داعیه ده، څنګه یې وژنې؟

اصلاً تاسو چاته مخاطب یاست؟

دولتونه خو یا نهشته یا هم د لسګونو میلیونو خلکو د داعیې په وړاندې بېوسه دي. ایا کولای شئ دواړه غاړې پراته ولسونه قانع کړئ، چې د خپل برخلیکټاکنې او یووالي له غوښتنې تېر شي؟

دا دې هم نههیرېږي، چې تر نیمګړي افغانستان زیاته په بشپړ افغانستان (ترکرغېږن ډیورند پورېغاړه) کې دغه روحیه ځواکمنه، منظمه او بنسټي ده، له هغوی سره څه کوئ؟

له ملي روح څخه راپنځېدلې دغه داعیه وژل کېدای نهشي، باید مدیریت او رهبري شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کېن یا ښي انټرناسیونالیستان یې مدیریت کولای نه‌شي، د پانګوالی له ګېډې رازېږېدلي لیبرال تکنوکراتان یې هم د مدیریت نه دي، ځکه دوی یوازې «ګټه» پېژني،  ملي ضدجهادیان، تنظیمیان او سکتریستان خو یې دوښمن دي، یوازینی ځواک چې دغه داعیه مدیریت او رهبري کولای شي، پاک‌لاسي روښانفکره ملتپال افغانان دي، چې د ملي روح دغه ځواک په علمي او سنجول شوي توګه مدیریت کولای شي.

پاکیستان په دې پوهېدلی دی، ځکه خو یې ټوله هڅه همدا ده، چې د روښانفکرو ملتپالو د نوي نسل ترمنځ شخړې جوړې کړي، په سلیقوي ناندریو کې یې بوخت وساتي او په دې توګه ځان ته په خپله ګټه زمان واخلي.

د روښانفکرې افغان ملتپالنې تر ټولو لوی آفت له عقلانیت څخه لرې، په احساساتي، سلیقه‌یي، بې‌ارزښته او بې‌مانا شخړو کې ښکېلتیا ده.

#ویښتیا، #روښانتیا او #بدلون


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ